# په هندي سبک کې د مدعا المثل دریځ او د کاظم خان شیدا مدعا المثلونه

**لیکوال: پوهیالی سراج احمد حبیبی**

**لنډیز**
د فارسي او پښتو ادب په شاعرانو کې د نورو سبکونو په منځ تلونکو شاعرانو په پرتله د هندي سبک شاعران تر ډېره د ژوند ژورو او آن تل ته ورکوز شوي او له دې سمندر څخه یې د ژوند د تجربو ډېرې نایابه مرغلرې راویستلې دي. د دې یو لامل ښايي دا وي چې د هندي سبک شاعران هر وخت د مضمون په افرینۍ او بکرو موضوعاتو پسې ګرځېدل او هره یوه یې دا هڅه کوله چې د خپل شعر د اډانې لپاره داسې موضوع وموميي، چې نورو تر اوسه پورې پرې شخوند نه وي وهلی. همدا سبب دی چې د دوی شعرونه مو د ژوند هر کنج او کنار ته رسوي او په تجربو او مشاهدې سره یې کولای شو چې د نورو خلکو په پرتله چې د دوی شاعری یې نه ده مطالعه کړې له ژوند سره ډېر اشنا شو. په پښتو ادبیاتو کې د هندي سبک بشپړوونکی شاعر کاظم خان شیدا دی، کوم چې هندي سبک یې د خپل عروج معراج ته ورساوه. د هغه په ټوله شاعرۍ او په ځانګړي توګه په هغه شعرونو کې چې د مدعا المثل صنعت کارول شوی د ژوند ډېرې ژورې تجربې او مشاهدې وینو. په همدې اساس د ژوند سره د لا ښه اشنا کېدو او نیږدې کېدو په پار به یې لوستونکو ته د دې بیتونو لوستل او آن خپلې حافظې ته سپارل بې ګټې نه وي.

**بنسټیز ویونه: کاظم خان شیدا، هندي سبک، مدعاالمثل او د کاظم خان شیدا مدعا المثلونه.**

**سریزه**

په پښتو او فارسي ادبیاتو کې هندي سبک د نورو سبکونو په پرتله، یو له خورا لوړو هنري او ادبي ځانګړتیاوو او ځانتیاوو لرونکو سبکونو څخه ګڼل کېږي. خو د دې ارزښت

سره سره یې بیا د دې دواړو ژبو په هنري او ادبي څېړنو کې موضوعات ډېر نه شاربل کېږي او چېرته چې دا کار شوی هم دی، په هغه کچه چې لازمه وه له مخ څخه یې بیا د ابهام نه ده پورته شوې. په پښتو ادب کې خو حتی له لویه سره د سبک پېژندني او سبکپوهې په اړه ډېر څه نه لیدل کېږي، له مقالو او رسالو پرته، کومو کسانو چې د سبک پېژندنې په باب په پښتو ادبیاتو کې کتابونه هم کښلي، یوازې او یوازې یې کتابونه تدریسي بڼه او اړخ لري، نه مطالعوي؛ لکه د استاد محمد رفیق رفیق «په افغانستان کې د پښتو معاصر شعر سبکونه»، د استاد اجمل ښکلي «سبک پوهه»، د حکیم تنیوال د«پښتو شعر سبکونه» او داسې نور. دا ټول د وخت د ضرورت په اساس کښل شوي دي، ښه به دا وي چې په پراخه کچه د هر شاعر او لیکوال په سبک باندې ځانګړې کار وشي او د سبک واړه ځانګړتیاوې او ځانتیاوې یې په ګوته شي. ځکه هغه کسان چې اوس یې موږ د یوه مکتب غړي هم بولو، د سبکونو ترمنځ یې ګڼ توپیرونه موجود دي. کاظم خان شیدا د هندي سبک پیرو او پشپړوونکی ګڼل شوی، خو د هندي سبک د نورو شاعرانو په پرتله یې سبک د هغوی سره د ځینو ورته ټکو ترڅنګ خورا ډېر توپیر هم لري، چې د دې مقالې په ترڅ کې هم ځای ځای ورته نغوته شوې ده. دا مقاله چې د کتاب خانه یې روش نه په استفادې سره کښل شوې، په هندي سبک کې د مدعا مثل د دریځ او د کاظم خان شیدا د سبک پېژندنې د لړۍ یوه کړۍ بویه وګڼل شي، نه بشپړ ځنځیر. نورو لیکوالو او څېړونکو ته دا وړاندیز کوم چې دا ځنځیر بشپړ کړي او د دې ترڅنګ د بل هر شاعر او لیکوال د سبک په هر اړخ ځانګړی کار وکړي. تر څو د هر شاعر او لیکوال د سبک ځانګړتیاوې په ګوته او په ټوله کې د پښتو ادب د سبک پېژندنې دا تشه ډکه شي.

**مدعا المثل**

مدعا المثل په ادبي فنونو کې د بدیعي ښکلاوو څخه یوه ښکلا ده، چې په کې شاعر د خپل بیت په یوه مصرع کې یوه ادعا وکړي او په بله مصرع کې د خپل ادعا د زباد لپاره د یوه مثال د موندلو هڅه؛ لکه:

نازولـــی زوی نه اخلــــــي ادب
او د سیوري نخل نه نیسي رطب

په پورته بیت کې حمید مومند د نازولي زوی د نه تربیې د ادعا لپاره د هغې خرما ذکر کړی چې په سیوري کې وي او هیڅ مېوه نه نیسي. (۶/ ۷۶)

استاد اسدالله غضنفر په خپل اثر «جادوګر هنر» کې کاږي: «مدعا مثل د هندي سبک شاعري خورا مهم خصوصیت دی. دلته د مرکبې تشبیه غوندې څو مشبه او مشبه به موندلی شو، خو له مرکبې تشبیه یې فرق دا دی چې په مدعا مثل کې شاعر هم یو ذهني مفهوم عیني کوي او هم د تشبیه په راوړلو سره د یوې ادعا ثابتول او توجیه کول غواړي»(۹/۲۹۵، ۲۹۶) عبدالحمید مومند وایي:

چې دانه په خاورو پټه شي خوشه شي
په ګـــــوګل دننه وســــــاته ارمان چپ
(۳۷ /۱۰)

دلته هم د مشبه او مشبه به ګڼي اړیکې وینو. (خاورې) او ګوګل، ارمان او دانه. چې ټول یو ځای د دې غونډ بیت انځور بشپړوي.

په ټوله کې د استاد اسدالله غضنفر په قول: «د مدعا مثل بنیاد په تشبیه ولاړ دی. په هغه بیت کې چې مدعا مثل وي، معمولا په یوه مصرعه کې شاعر یوه ادعا وکړي او په بله مصرعه کې د ادعا د ثابتولو لپاره مثال راوړي»(۹/ ۴۷۳).

په پښتو ادبیاتو کې د هندي سبک پشپړوونکی شاعر کاظم خان شیدا وایي:

ګرداب وګوره درياب حلقه به بګوش کا
هیڅ تقصـــــــیر د صغیر مه کوه کبیره
(۲/ ۸۲)

دلته وینو چې شیدا د خپلې ادعا لپاره چې هغه « هیڅ تقصیر د صغیر مه کوه کبیره» ده، صغیر له ګرداب سره او کبیر له درياب سره په یوه تشبیهي تار پېیلې دي او وایي؛ لکه څرنګه چې یو کوچنی ګرداب هم درياب حلقه بګوش کولای شي، دغسې یو کوچنی ماشوم هم یو وخت کولای شي چې ډېر لوی لوی کسان هم راوپرځوي.

**په هندي سبک کې د مدعا المثل دریځ**

مدعا المثل په هندي سبک کې د شرقي شاعرۍ د بل هر سبک په پرتله لوړ او جوت مقام لري، د هندي سبک پر منډ تلونکی داسې یو شاعر به هم نه وي، چې په شعرونو کې یې دې د تشبیه، مجاز، کنایې، استعارې او ځینو نورو هنري ادبي ښکلاوو تر څنګ د مدعا المثلونو تله درنه نه وي.

په هندي سبک کې د مدعاالمثل د دریځ په اړه دوکتور مجاور احمد زیار هم په خپل اثر «پښتو بدلمېچ» کې کاږي: «دغه انځوریز چم په هندي سبک کې زیات پر کار اچول کېږي. له دغه پلوه په پښتنو پلیونیو کې حمید په هر ډول، خو شیدا پېخپوره له میرزا بېدل سره سیالي کړې»(۳/ ۲۴۰).

د دې یو لامل دا دی چې د هندي سبک شاعران تل د مضمون په افرینۍ او بکرو موضوعاتو پسې ګرځېدل، د دا ډول موضوعاتو د وړاندې کولو لپاره مدعا المثل تر بل هر هنري ادبي صنعت غوره صنعت دی. ځکه په مدعا المثل کې شاعر د خپلې ادعا د زباد لپاره له فطرت او ژوند څخه یو مثال راوړي، په همدې اساس دوی فطرت او ژوند ته په ژور نظر ګوري او په کې په بکرو او نوو مضامینو پسې سرګردانه ګرځي. صایب اصفهاني وایي:

یک عمر می توان سخن از زلف یار گفت
در بند آن مباش که مضمون نمانده است
(۲/ ۷۹)

د دوی همدې ډول خبرو دوی په ژوند کې په نوو موضوعاتو او مضامینو پسې سرګردانه کړي وو او له همدې لامله یې په شعرونو کې د ژوندانه ګڼ او ناڅرګند اړخونه رابرسېره شوي دي، دوی خو هډو خپلې تجربې او موندنې هم په خپل شعر کې بار بار نه

تکراروي، د نورو هغوی خو پر ځای پرېږدئ.

**کاظم خان شیدا**

کاظم خان شیدا په پښتو ادبیاتو کې د هندي سبک بشپړونکی ګڼل شوی او پرته له دېوان څخه یې بل کوم اثر نه دی را پاتې.

کاظم خان شیدا د افضل خان کشر زوی، د اشرف خان نمسی او د خوشحال خان کړوسی دی. په غالب ګمان سره په ( ۱۱۴۰هـ ق) کال کې زیږېدلی او په (۱۱۹۴هـ ق) کال کې وفات شوی دی (۴/ ۳۳۲).

د ده د ژوند او هنر په باب تر اوسه پورې په څېړنو کې له ډېرو پټو او نا څرګندو اړخونو څخه پرده نه ده پورته شوې، د دې لاملونه تر ډېره بریده دا دي، چې یو خو خپله د شیدا په شاعرۍ کې د خپل ژوند په باب ډېر څه نه دي ذکر شوي او بل یې شاعري هم د پښتو ادب د نورو شاعرانو غوندې ساده او اسانه نه ده، چې آن د لږې مطالعې څېړونکي دې هم د خپلې موضوع د اثبات لپاره استدلال پرې وکړای شي. شیدا خپله وایي:

د شانې په دود پیدا کړه رسا فکر
باریکي لري زما د اشعار زلفې
(۵/۳۸۴)

کړه یې واه لکه ګره د تورو زلفو
باریکي لــــري تمام دېوان زما
(۵/ ۹۹)

غوږ شه و ماته که درست انصاف یې
نه سخن چین یې نه سخـــن باف یــې
تر مـوی نازک دی د شیدا شعــــــر
هله یې لوله که موی شـــګاف یــــې
(۵/۴۱۳)

نو دا د همدې موی شګافو څېړونکو او لوستونکو لپاره د ده د شعر کښلو نتیجه ده، چې نن وخت یې موږ د ژوند او هنر په باب ډېر څه نه لرو. موږ چې په دې مقاله کې د ده په شعرونو کې د مدعا المثلونو د پلټنو کار پیلوو، د موی شګافۍ دعوه نه کوو او نه ځانونه د دې وړ بولو چې د ده د موی شګافو څېړونکو او لوستونکو په کتار کې دې ودرېږو، خو د ده د حق اداینې لپاره د خپلې غاړې خلاصونې هڅې خامخا پر ځان لازمې بولو.

**د کاظم خان شیدا مدعا مثلونه**

کاظم خان شیدا چې په پښتو ادبیاتو کې د هندي سبک بشپړوونکی ګڼل شوی، ښایي یو لامل یې دا هم وي، چې ده هم د دې سبک پر منډ تلونکو نورو شاعرانو غوندې د تشبیه، مجاز، کنایې او استعارې ترڅنګ په پراخه کچه مدعا المثلونه کارولي دي.

کاظم خان شیدا وایي:

د دریاب له سردجوشۍ د حباب زړه چوي
شیدا قطـــع دي امید بـــــویه له خپلــــــو
(۵/ ۱۵۹)

شاعر په دویمه مصرعه کې ادعا کړې ده، چې له خپلو نه بویه د تل لپاره د مرستې او ښو تمه ونه شي. دی په لومړی مصرعه کې همدا خبره د یوه مثال په توګه داسې واضح کوي؛ وایي: څنګه چې حباب له دریاب نه پیدا شوی او له همدې خاندانه دی، خو کله چې دریاب په سرد جوشی راشي نو د همدغه ترې پیدا شوي حباب زړه وچوي، دغسې چې ته هم یوه مقام ته ورسېږي، نو ستا پر دې مقام به دې د واړو خپلو زړونه وچوي.

په دې بیت کې تشبیهي رابطې وینو: د دویمې مصرعې شیدا له دریاب سره او خپل له حباب سره تشبیه شوي دي.

استاد اسدالله غضنفر په خپل اثر »جادوګر هنر« کې مدعا المثل د تشبیه له کورنی څخه ګڼي، خو له تشبیه سره یې توپیرونه بیا دا ښيي:

(۱) ـ په مدعا مثل کې د مثال راوړلو له لارې د یوې ادعا د ثابتولو هڅه روانه وي، مګر په عادي تشبیه کې دغسې هڅه نه وي.

(۲) ـ په مدعا مثل کې معمولا مشبه او مشبه به تر یوه زیات وي.

(۳) ـ په مدعا مثل کې د تشبیه توري ( لکه، هسې، په شان ...) نه وي.

(۴) په مدعا مثل کې دا امکان زیات دی چې د تشبیه وجه بیان نه شي(۹/ ۴۷۳، ۴۷۴).

پخوانیو ادبپوهانو په سلګونو بدیعي صنعتونه معرفي کړي دي چې ځینې یې هنري ارزښت نه لري او د ځینو هنري ارزښت یې زیات نه دی. مدعا مثل په هغو لږ شمېر بدیعي صنعتونو کې شامل دی چې خورا لوړ ادبي ارزښت لري(۹/ ۴۷۴). د کاظم خان شیدا د شاعرۍ ښکلا تر ډېره حده د مدعا مثلونو زېږنده ده.

دی وایي:

د نفس په بستګـــۍ کې حـباب پایــــــي
ډېر ضرور دی که پوهېږې په ګفتار کې
(۵/۲۹۸)

شیدا په پورته بیت کې دا ادعا کوي، څومره چې انسان ډېر غږېږي هماغومره ډېرې خطاوې هم کوي. د موضوع د لا ښه وضاحت لپاره، دی په لومړۍ مصرع کې را ته وایي چې: لکه څرنګه چې حباب تر هغه وخته ژوندی پاتې وي، تر څو یې چې خوله نه وي خلاصه کړې. دغه راز تر هغې پورې چې انسان خوله پټه نیولې وې، تر هغې به یې ژوند په ښه توګه تېرېږي او له کړاوونو څخه به په امان وي.

نرم چوب وي همېشه غذا د کرم
شیدا مه شه مرد خالي له سیاسته
(۵/ ۱۶۵)

د دې بیت په دویمه مصرع کې شیدا راته وایي: چې بویه هر سړی د نرمۍ ترڅنګ تندمزاجي یا د ده په اصطلاح سیاست هم ولري. ځکه ډېر کارونه په نرمۍ سره نه کېږي. شیدا د دې ادعا د ثبوت لپاره وایي لکه څرنګه چې د چینجي غذا یوازې لرګي دي، دغسې ډېر چینجو ته ورته کسان هم یوازې او یوازې په سوټي یا لرګي سره سمېږي.

په مدعا مثل کې استدلال وي، خو شاعرانه استدلال چې د منطق په زور نه بلکې د خپلې ښکلا په زور په لوستونکي باندې اثر پرېباسي. د تشبیهي استدلال له لارې ممکن متضادو نتیجو ته ورسېږو(۹/ ۴۷۴).

په پاسني بیت کې د ځینو کسانو لپاره چوب یا د شیدا سیاست درلودل ضروري ګڼل شوي وو، خو په لاندې بیتونو کې چې د دې اډانه هم په مدعا المثل ولاړه ده، بیا برعکس د داسې کسانو لپاره نرمي توصیه شوې:

په نرمۍ کوه علاج د ســـر کشانو
د اتش لمبه په اور د ګوهر نه مري
(۵/۲۳۲)

او یا:

د سېلاب موج په بند د ګرداب کېوځي
په نرمۍ کوم تسخیر د تند خــــویانو
(۵/ ۱۵۶)

د شیدا په لاندې بیتونو کې هم چې لومړی یې په ژوند کې اسبابو ته د ډېرې اړتیا او دویم هغه یې بیا برعکس خبرې کوي، متضادو نتیجو ته رسېږو:

د صورت په قوت څه شي بې اسبابه
په شبنم کې کوم نهنګ شــناوري کا
(۵/ ۱۰۰)

او:

شیدا مه کــوه تکیه په اســـباب باندې
غرق په آب کې له شناز سره ګوهر شي
(۵/ ۲۴۱)

د کاظم خان شیدا مدعا المثلونه د هندي سبک د نورو شاعرانو په پرتله دا ځانګړتیا ډېره پالي چې د هغوی په مدعا المثلونو کې تر ډېره ادعا په لومړۍ مصرع او مثال یې په دویمه مصرع کې وي، خو د کاظم شیدا په مدعا المثلونه کې بیا برعکس تر ډېره ادعا په دویمه مصرع کې او مثال یې په لومړۍ هغې کې وي. بوازې دا پورتنی بیت او ځینې نورو هغوی یې دا ځانګړنه نه لري او د هندي سبک د نورو شاعرانو مدعا المثلونه ته ورته دي. خو په ټوله کې یې تر ډېره په دې دویمه ګټګورۍ کې مدعا المثلونه راځي. لاندې مدعا المثلونه خو یې ټول همدا ځانګړنه لري:

و حباب ته ســـر فـــــرو کا دریابــــونه
ګوري سپک په درنه سترګه چې درانه وي
(۵/ ۲۳۵)

په یوه قدم عصا ځي تر تا وړاندې
مستعد په لږ اسباب کا ډېر کارونه
(۵/ ۲۲۳)

صدف لاس قطرې ته نیسي په دریاب کې
بزرگي د صورت څه کړي، معنی غواړه
(۵/ ۱۲۱)

د رڼا په شب روی د شمعې سر ځي
شیدا مه اخله پـــــرده له خفیه رازه
(۵/ ۱۹۲)

چې له زانو کټوري غواړي وگړي
اثر نشته د جمشید له انجــــــمنه
(۷/ ۱۲۷)

یوه بله ځانگړتیا یې چې استاد اسدالله غضنفر په خپل اثر جادوگر هنر کې د «حنان بارکزي مدعا مثلونه» تر عنوان لاندې ورته نغوته کړې، هغه دا ده چې شیدا له مدعا مثله د اخلاقي پیغامونو او د ژوند د تجربو د بیان لپاره زیاته استفاده کړې ده، خو د هندي سبک نورو شاعرانو لکه حمید مومند او حنان بارکزي تر ډېره یوازې د مجازي حسن د انځورونې لپاره کارولی دی( ۹/ ۴۷۵).

د استاد اسدالله غضنفر خبره به په خپل ځان سمه وي، خو که په ټوله کې مدعا المثل ته ډېر دقت وشي، دا نه یوازې د کاظم خان شیدا مدعا المثلونه دا ځانگړتیاوې لري، بلکې د هر مدعا المثل یوه ځانگړنه دا ده، چې تر بل هر ادبي صنعت او شکلا ډېرې د ژوند تجربې په کې رانغښتل کېږي. هر چېرته چې په کوم بیت کې مدعا المثل راغلی، هلته خامخا لوستونکی د ژوند د تجربو گنې نایابه مرغلرې موندلی شي او د هغه بیت لوستل او بیا حافظې ته سپارل به ورته بې گټې نه وي. لاندې څو بېلگو ته تم کېږو، چې د هندي سبک د بېلابېلو شاعرانو له دیوانونو څخه په همدې پار راخیستل شوي، چې زموږ دا ادعا ښه زباد کړای شي:

له خامی جوش و خروش خېژي له دېگه
وي له خپلـــې پختگی پختگان چـــوپ
(۱۰/ ۳۷)

جوړ شي شخصیت له لـــوړو ځوړو نه
خوړې چې یې خوا کې نه وي غر نه دی
(۱/ ۳۹۰)

وروځو دې نسکور ځکه په اور کړم دلنوازه
تاو د اور دارو دی د لـــــړمو د چیچلــــو
(۸/ ۱۳۱)

همت ناک سړی که خوار وي دولتمن وي
ځاځکي گــــــوره نه کوي له دریا طمعه
(۹/ ۵۶۵)

وینو چې پورتني ټول بیتونه مو د ژوند په یوه تجربه او مشاهده کې له ځانه سره شریکوي او له ژوند سره د اشنا کېدو په پار ډېر څه تري زده کولای شو. د دې بحث د

حسن اختتام په پار د کاظم خان شیدا دې ځینو نورو بیتونو ته هم چې، هم د ژوند په تجربو او هم پر مدعا مثلونو سره مالامال دي غوره کوو:

د بې کس په ماتم کله چا نعـــــرې کړې
څوک په مرګ د شمعې ولیده غمګین چا
(۵/ ۱۰۵)

زورور دي افتاده تر ګـــــردن کشو
تل په بند وي د دریاب ګردان د موج
(۵/ ۱۱۷)

احتیاج د محتاج ورک بلند نظـــر کا
د آفتاب له چشمې جام مهتاب لبریز کړ
(۵/ ۱۲۴)

بلندان د دنیا پست دي که یې وینې
نه کړه هسک له ځمکې سر لوړو کمرو
(۵/ ۱۵۸)

د سختۍ په پېچ او تاب د مرد نرمي ځي
چې په دوک شي پومبه ځان کاندي رشته
(۵/ ۱۶۷)

**مناقشه**

د هندي سبک د شاعرانو له ګڼو ځانګړتیاوو او ځانتیاوو څخه یوه هم په پراخه پېمانه د مدعا المثلونه کارول دي، که څه هم د مدعا المثل ترڅنګ دوی د بدیع او بیان د فنونو د نورو صنعتونو په کارول هم ډېر اوښار دي. خو په ټولو کې یې مدعا المثل چې له آره یې بنیاد پر تشبیه ایښودل شوی دی، د دوی لپاره په ښه توګه د خپلې موخې د څرګندولو وسیله ګڼلای شو. په مدعا المثل کې معمولاً شاعر د خپل بیت په یوه مصرع کې یوه ادعا کوي او په بله مصرع کې د هغې ادعا د زباډولو لپاره یو مثال راوړي، د دغه دومره ډېرو مثالونو د موندلو لپاره دوی فطرت ته مخه کوي او نوي نوي موضوعات پیدا کوي. په همدې اساس دوی ته د مضمون پنځوونکي شاعران هم ویل شوي دي.

په پښتو ادبیاتو کې څرنګه چې کاظم خان شیدا د هندي سبک بشپړوونکی شاعر ګڼل شوی دی، د دې یو لامل هم د هغه له خوا د هندي سبک د ټولو ځانګړتیاوو او ځانتیاوو راخپلول دي، چې په دې ټولو کې یې تر ډېره پام د ده مدعا المثلونو ته ور اوړي. آن له دې مخې خو یې استاد مجاور احمد زیار د میرزا بېدل چې د فارسي ادب د هندي سبک یو نوموتی شاعر دی، ببخپوره سیال ګڼي.

**پایله**

د دې بحث د پایلې په توګه ویلای شو چې مدعا المثل په هندي سبک کې د بدیع او بیان د نورو فنونو او صنعتونو په پرتله یو لوړ او جوت مقام لري. مدعا المثل شعر ته د خپلې هنر ښوونکي وړتیا تر څنګ د ژوند د تجربو او مشاهدو د رانغښتلو ببخپوره وړتیا او

ځانګړتیا هم لري. په همدې اساس د هندي سبک د شاعرانو له خوا چې په شعرونو کې یې تر ډېره د ژوند ډېرې نایابې مرغلرې پرتې دي او په همدې پار مضمون پنځوونکي شاعران ګڼل شوي، ډېر کارول شوی دی. د هندي سبک په شاعرانو کې هم هغه شاعران چې د مدعا المثلونو په پرتله یې د بدیع او بیان نورو صنعتونو او ښکلاوو ته پاملرنه ډېره کړې، د ژوند ژورې تجربې ډېرې نه مومو.

په پښتو ادبیاتو کې د هندي سبک چې بنسټ یې عبدالحمید مومند ایښی ؤ، کاظم خان شیدا بشپړوونکی ګڼل شوی دی، د دې یو لامل هم خپله د مومند او د ده د سبک د نورو پالونکو شاعرانو په پرتله د کاظم خان شیدا له خوا د هندي سبک د ټولو ځانګړتیاوو راخپلول او په ځانګړې توګه د مدعا المثلونو ډېر کارول ګڼلای شو، هغه نه یوازې مدعا المثلونه په خپلو شعرونو کې ډېر کارولي، بلکې د دې سبک د نورو شاعرانو په پرتله یې د ژوند د تجربو او مشاهدو د وړاندې کولو چوپړ ته هم ډېر وقف کړي دي. په همدې اساس د نوموړي هغه بیتونه چې مدعا المثلونه په کې کار شوي موږ او تاسې ته د ژوند ډېر تیاره او ناڅرګند اړخونه روښانه کولای شي او د ژوند د لا ښه پېژندنې او شناخت په پار به یې په حافظو کې خوندي کول بې ګټې نه وي.

**وړاندیزونه**

۱ـ د سبک پېژندنې په برخه کې په پښتو ادبیاتو کې تر دې دمه ډېر لږ کار شوی دی، په تېره بیا د هندي سبک په اړه ډېر څه نه تر سترګو کېږي، څېړونکو او کره کتونکو ته بویه چې په دې برخه کې هم لاس په کار شي.

۲ـ د کاظم خان شیدا چې په پښتو ادبیاتو کې د هندي سبک د سرلارو او بشپړوونکو له ډلې څخه ګڼل کېږي، د ژوند په باب ډېر څه نه لیدل کېږي، په دې برخه کې هم بویه څېړنې وشي، تر څو له ژوند څخه یې د ابهام پرده پورته شي.

۳ـ د کاظم خان شیدا نه یوازې دا ژوند تر ډېره په تیارو کې پټ دی، بلکې د هنر له بکرې څخه یې هم لا تر اوسه په هغه کچه چې لازمه وه، پلو نه دی اخیستل شوی. په دې برخه کې هم پراخو څېړنو او پلټنو ته ضرورت دی، بویه چې تر سره شي.

**اخځلیکونه**


۱ـ پسرلی، محمد صدیق. (۱۳۹۰). **غزل بڼ**. کابل: افغان مسلکي مطبعه.

۲ـ درمل، احسان الله. (۱۳۹۵). **شعرستان**. کندهار: بېنوا فرهنګي ټولنه.

۳ـ زیار، مجاور احمد. (۱۳۸۹). **پښتو بدلمېچ**. کابل: دویم چاپ. دانش خپرندویه ټولنه.

۴ـ زېور، زېورالدین. (۱۳۸۶). **د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنی دوره**. کابل: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز.

۵ـ شیدا، کاظم خان.(۱۳۸۴). **د کاظم خان شیدا دېوان**. د حنیف خلیل تدوین، سریزه، یادښتونه او وییپانګه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۶ـ شېرزاد، محمد آقا.(۱۳۹۵). **ادبي فنون**. جلال اباد: میهن خپرندویه ټولنه.

۷ـ صمیم، محمد آصف. (۱۳۹۵). **د لرغوني شاعرۍ ګړنې**. ننګرهار: دویم چاپ. مومند خپرندویه ټولنه.

۸ـ علي خان. (۱۳۸۳). **د علي خان دېوان**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۹ـ غضنفر، اسدالله. ( ۱۳۹۳). **جادوګر هنر**. ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

۱۰ـ مومند، عبدالحمید. ( ۱۳۸۶). **د عبدالحمید مومند کلیات**. د محمد آصف صمیم اوډون او وییپانګه. پېښور: دویم چاپ. دانش خپرندویه ټولنه.